**مطبوعاتي اعلامیه**

**د اګست ۱۴مې د خپلواکۍ د ورځې پیغام**

**د پاکستان مسلمانانو ته به یوازې د نبوت پر منهج دویم ځل خلافت رښتینې خپلواکي ورکړي!**



پر دغه ورځ مسمانان هغه سترې سربښندنې په یاد راوړي، چې ۷۰ کاله مخکې د پاکستان پر پاکه او نېکه خاوره د هغه دولت، چې اساس یې اسلام وي، د رامنځ ته کېدو لپاره وکړې. حزب التحریر ولایه پاکستان په رسمي توګه د هغه څه په اړه چې تېر شوي، نن ورځ ور سره مخ یو او یا به په راتلونکي کې ورسره مخ شو، یادونه کوي.

د دې په اړه چې څه تېر شوي، دا د اسلام لپاره زموږ ښه چوپړ و، هغه چوپړ چې په لیکلو یې قلمونه رنګ وچوي. هغه خدمت مو د الله سبحانه وتعالی فیصلې او اجر لپاره وړاندې کړ. موږ څه د پاسه زر کاله د لومړي خلافت (راشده خلافت) له پیله مو پر ټوله سیمه د اسلام په سپیڅلیو وړانګو حکومت وکړ.

کله چې له ۱۷۵۷م کال څخه را په دېخوا زموږ چارې د بریتانوي هند د اشغالګرو پوځونو تر ولکې لاندې وې، موږ په ډېره زړورتیا د هغوی پر وړاندې ودرېدو. هغه مهال له بریتانیا سره هندو او مسلمانو رهبرانو مرسته کوله. موږ ډېر نارامه وو، زموږ د محبوب شریعت قوانین یې له منځه یوړل او پر ځای یې، په زور خپل پانګوالي ظالم نظام تاسیس کړ. په دې ډول مسلمانان او غیر مسلمانان د کفارو تر حاکمیت لاندې د بېوزلۍ کندې ته ولوېدل. د

قحطۍ او قرضونو له لاسه يې سخت زيانونه وليدل، په داسې حال کې چې د اسلام د حاکميت پر مهال د هند نيمه وچه له پولو بهر هم د خلکو لپاره د ډوډۍ يو شکور وه.

موږ مسلمانانو بريتانوي هند ته سر ټيټ نه کړ. موږ هر وخت په زړورتيا مقاومت وکړ، که هغه د ۱۸۵۷ کال جهاد پر مهال و، که د خلافت خوځښت او که په پاکستان کې د اسلامي دولت د رامنځ ته کولو پر مهال و. اسلام زمونږ لاره وه، لکه څرنګه چې اوس ده. دغې لارې مسلمانان تر بلې هرې لارې په خوځښت را وستل، ځکه چې دا لار له الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د مبدايي مينې درلودلو له امله وه.

دا چې پاکستان څه ډول رامنځته شو، په اړه يې فکر وکړئ تر اوو ميليونو زياتو مسلمانانو پاکستان ته د هندی ظالم حکومت څخه د خلاصون په سبب مهاجرت وکړ. ميليونو يې خپل مالونو پرېښودل، سلګونه زره يې شهيدان شول، د زرګونو کسانو عزت تر پښو لاندې شو؛ خو مسلمانان هېڅکله پښېمانه نه شول، ځکه دوی پوهېږي چې بدله يې له رحيم خدای سره ده! هغو مسلمانانو چې مهاجرت يې وکړ، په اخلاص سره را ورسېدل، لکه څرنګه چې مسلمانان د مهاجرينو او انصارو رضی الله تعالی عنهم اجمعين، بېلګه په ياد راوړي. حقيقت کې که دا د اسلام لپاره نه وی، نو پاکستان به هېڅکله نه و رامنځته شوی. د ورورۍ پيوند د دفاع لپاره درېدل او قرباني هغه څه دي، چې د مومنانو په زړونو کې وده کوي.

هغه څه چې نن ورځ ورسره مخ يو، اسلام موږ ته د يو فرد او مسلمانانو په حيث د زړه د ضربان په بڼه پاتې دی. موږ د يو نوي ظلم، يو نوي بريتانوي هند، يو امريکايي هند څخه مخکې نارامه يو. هغوی چې غواړي زموږ د نيکونو تاريخي او مهمې قربانۍ له منځه يوسي. د پوځ په ليکو او رهبرۍ کې خاينانو د مير صديق او مير جفير نا اهله زامنو، زموږ پاکه خاوره د لسزو لپاره واشنګټن ته په ولکه کې ورکړه.

د امريکا دې غوښتنو ته ځواب ورکول چې (ډېر څه وکړئ) زموږ شريف پوځونه په افغانستان کې د قومي پياوړي مقامت پر ضد د صليبيي لښکرو ساتنه کوي. د امريکا غوښتنو زموږ پوځونه د هنديانو د تعرض له هر پرمختګ مخکې په اشغال شوي او حتی په ازاد کشمير کې تړلي. په پټو سترګو د کفر او کپېټاليېزم امر مني او د شريعت قوانين يې شاته غورځولي، دغو خاينو زموږ اقتصاد سره له دومره ډېرو زېرمو په هېڅ حساب کړی.

دا چې په راتلونکې که به له موږ سره څه کيږي، د الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم د اطاعت، د نبوت پر منهج دويم ځل خلاقت يوازينۍ لار ده چې له امريکايي هند څخه خپلواکي را په برخه کړي. نو حزب التحرير له ټولو هغو کسانو چې د اسلام له زړو کلو زيات حاکميت، زموږ تاريخ او قربانۍ ته درناوی لري، غواړي، چې زموږ له شبابو سره اوږه په اوږه ودرېږي او پاکستان د ټول امت د ساتونکي په توګه د خلافت تاسيس د پيل ټکی وګرځوي.

حزب التحرير په پوځ کې پر مخلصو کسانو غږ کوي چې د انصارو رضی الله تعالی عنه پیروي وکړي، چې د اسلام د عملي، بشپړ او اړین تاسیس لپاره یې نصرت ورکړ. مه پرېږدئ چې امریکایي هند بل کال هم تېر کړي او کېدی شي چې دغه ځمکې بیا د امت د سپر (خلافت) په سبب خوشبختې شي. یو نېک خلیفه چې پر موږ اسلام پلی کړي او د دښمنانو پر وړاندې مو واحد امت کړي. راځئ هڅه وکړو چې د ځمکې پر سر د ډېموکراسۍ فساد او ظلم ختم کړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زیري پسې په چټکۍ وگرځو. هغه صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ»** (احمد)

*بیا به جبریه او د ظلم واکمني را شي، دا به هم تر هغه مهاله وي، چې د الله سبحانه وتعالی اراده وي، کله چې وغواړي پای ته به یې ورسوي.* بیا به د نبوت پر منهج خلافت *تاسیس شي. وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم چوپ شو.*

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۳۸، د ذولقعدې ۲۱مه**

**۲۰۱۷، د اگیست ۱۴ مه، دوشنبه**

**گڼه: PR17062**